**د افغانستان اسلامي امارت**

**د پوهنې وزارت**

**د کابل ولایت د پوهنې ریاست**

**د کیفیت تضمین آمریت**

**دڅارنې او ارزونې لوی مدیریت**




# د کابل ولایت د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ ربعوار راپور

**د راپور ورکولو دوره: (۱ وری ـ ۳۰ حوت) 1403 لمریز کال**

# د مطالبو نوملړ


**د ۱۴۰۳ کال د کلني راپور ترتیب کوونکو نوملړ ........ 1**

**د ولایت په هکله عمومي معلومات/ولایتي پروفایل ........ 2**

**سریزه ........ 2**

**لومړۍ برخه: د کړنو لنډیز ........ 4**

**دویمه برخه: د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 7**

لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو ........ 7

۱. ښوونه او روزنه ........ 7

۲. اسلامي زده کړې ........ 9

۳. د کیفیت تضمین پروګرام ........ 10

۴. سرچینې او اداره ........ 12

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 12

دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 13

۱. ښوونه او روزنه ........ 13

۲. اسلامي زده کړې ........ 16

۴. سرچینې او اداره ........ 17

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 19

3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت ........ 19

۱. ښوونه او روزنه ........ 19

۲. اسلامي زده کړې ........ 21

۳. سرچینې او اداره ........ 22

۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 24

**دریمه برخه: د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 26**

**څلورمه برخه: تحلیل او پایلې ........ 27**

**پنځمه برخه: د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 57**

**شپږمه برخه: مالي راپور تحلیل ........ 58**

**اوومه برخه: ضمایم ........ 59**

## د ۱۴۰۳ کال د کلني راپور ترتیب کوونکو نوملړ

| اسم و تخلص | وظیفه | ایمیل آدرس | شمارهwhat's up | امضاء |
|---|---|---|---|---|
| مولوي فضل هادي "فضلي" | آمر تعلیمات عمومی | | +93772768401 | |
| مولوي عبدالوهاب "حقاني" | آمرمنابع اداره | | +9377960617 | |
| حافظ عبدالحلیم "شهید زاده" | آمرتضمین کیفیت | | +93776660617 | |
| مفتي هدایت الله "متقي" | آمرتعلیمات اسلامی | | +93767914471 | |
| محمد معروف "بهادری" | عضو مسلکی تحلیل وتوحید گزارشات | mbahadury1@gmail.com | +93786400170 | |

تائید ریاست معارف ولایت کابل:

| اسم و تخلص | وظیفه | ایمیل آدرس | شمارهwhat's up | امضاء |
|---|---|---|---|---|
| مولوي عبدالحق "حقاني" | رئیس معارف ولایت کابل | | +93767475008 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات/ولایتي پروفایل

د کابل ولایت د افغانستان یو له مهمو ولایتونو څخه دی او د هېواد پلازمېنه هم ګڼل کېږي. د دې ولایت مرکز کابل ښار دی او د هېواد په مرکزي زون کې موقعیت لري. شمال لویدیځ ته له پروان، شمال ختیځ ته له کاپیسا، ختیځ ته له لغمان، جنوب ختیځ ته له ننګرهار، جنوب ته له لوګر او لویدیځ ته له میدان وردګو ولایتونو سره ګډه پوله لري.

د کابل ولایت مساحت ۴٬۵۸۵ کیلومتره مربع دی، چې له هغې څخه زیاتره برخه 85% غرونه او ناهمواره دښتې دي، پداسې حال کې چې 15% یې همواره ځمکه تشکیلوي.

کابل ولایت ټولټې ۱۴ ولسوالۍ لري، چې په لاندې ډول دي:

۱ ـ پغمان، ۲ ـ چهارآسیاب، ۳ ـ موسهی، ۴ ـ بګرامي، ۵ ـ خاک جبار، ٦ ـ سروبي، ۷ ـ ده‌سبز، ۸ ـ شکردره، ۹ ـ ګلدره، ۱۰ ـ استالف، ۱۱ ـ فرزه، ۱۲ ـ میربچه‌کوت، ۱۳ ـ قره‌باغ، ۱۴ ـ کلکان.

د احصایې او معلوماتو اداري د ۱۴۰۰ هـ.ش کال د اعلان شویو ارقامو له مخې، د کابل ولایت نفوس ۵٬۳۸۵٬۵۲٦ تنه اټکل شوی، چې له دې شمېرې څخه ۴٬٦۲۷٬۳۰۴ تنه د ښار اوسېدونکي او ۷۵۸٬۲۲۲ تنه اطرافي خلک دي. د کابل ولایت د ولسوالیو ډېری اوسېدونکي په زراعت بوخت دي.همدارنګه کابل د افغانستان اقتصادي او فرهنګی مرکز هم دی.

| کرهنه | مالداري | سوداګریز خدمتونه | پیداوار | کار ګري | نور |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۰٪ | ۳٪ | ۱۱٪ | ٦٪ | ۲۷٪ | ۳ |

یاد ولایت کې ګڼ شمېر د ښوونې او روزنې دولتي او خصوصي ښوونځي، دیني مدرسې او د سواد د زده کړې مرکزونه شتون لري چې کره او دقیق شمېر یې په لاندې ډول سره دی.

۱ ـ دولتي ښوونځي: ۱۷۰ لېسې، ۹۲ منځني ښوونځي، ۱۸۹ لومړني ښوونځي چې ټول شمېر یې ۴۵۱ ته رسیږي.

۲ ـ دیني مدرسې: ۴۷۰ مدرسې، ۹۲ دار الحفاظونه، ۲۰ دار العلومونه چې ټول شمېر یې ۵۸۲ ته رسیږي.

۳ ـ خصوصي ښوونځي: ۴۴ لېسې، ۵۰ منځنۍ، ۷۸ لومړني چې ټول شمېر یې ۱۷۲ ته رسیږي.

۴ ـ د سواد د زده کړو مرکزونه: ۲۳۱ کورسونه چې د زده کوونکو شمېر یې ۲۹۸٦ ته رسیږي، چې له دې جملې څخه یې ۱۰۲۱ نارینه او ۱۹٦۵ هم ښځینه دي.

## سریزه

بنسټیز هدف ته د رسېدو په موخه راپور د یوې اداري له اړینو او مهمو کړنو څخه شمېرل کېږي او د اداري اصولو له مخې اړینه ده چې هره اداره او اړوند کارکوونکي یې د هرې میاشتې، ربعې او کال په وروستیو کې د خپلو ترسره شوو کړنو څخه اړوند لوړو مقاماتو ته خبر ورکړي.

نو د پوهنې او روزنې د ښه کیفیت ترلاسه کولو، په چارو کې د ښه پرمختګ او روښوالي رامنځته کېدو په موخه د کابل ولایت د پوهنې ریاست مرکزي هستې څلور ګونو برنامو او اړوند ۱۴ ولسوالیو د پوهنې امرینو د ۱۴۰۳ مالي کال د عملیاتي پلان د پرمختګ راپور د دې ریاست د تضمین کیفیت امریت اړوند د راپورونو د تحلیل او توحید مسلکي غړو له لوري د پوهنې وزارت څخه د رارسېدلي فارمټ سره سم ترتیب شوی دی او د راپور د ترتیب محتوا په لاندې ډول سره ده:

لومړۍ برخه: د کړنو لنډيز؛

دوهمه برخه: په ۳ واړو عرصو کې د عمده فعالیتونو د پرمختګ تفصیلي راپور؛

دریمه برخه: له پلان څخه بهر د ترسره شوو کړنو لنډيز؛

څلورمه برخه: د راپور تحلیل او پایله؛

پنځمه برخه: عمده ستونزې او د حل لارو وړاندیزونه؛

شپږمه برخه: د مالي برخې راپور؛

اوومه برخه: احصائیوي جدولونه.

# لومړی برخه: د کړنو لنډیز

## 1.عرصه: کیفیت او تړاو

### ۱. ښوونه او روزنه

- ۴۶ تنه د بدني روزنې او ۱۶ تنه د أصول صنفي ښوونکو ته سمینار ورکړل شوی دی او همدارنګه د صحت په برخه کې د ۱۲۸ تنه ښوونکو، مدیرانو او امرینو او ۶۰۰ زده کوونکو ته معلومات وړاندې شوي دي.
- ۷۲ تنه د لابرانت ښوونکي دمسلکي ښوونیزو غړو له لوري روزل شوي او همدارنګه د ده سبز ولسوالۍ اړوند ښوونځیو کې د ساینسي څانګو ۱۱ تجربې ترسره شوې دي.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند ۲۰ دارالعلومونو کې د اړتیاوو معلومولو لپار کتنې ترسره شوې دي چې، د یادې کتنې په پایله کې کتل شوي دارالعلومونو د ۳۳خیمو، ۷۳ بابه درسی اطاقونو، ۲۰ بابه اداري اطاقونو، ۲۵۹۵ پایې د زده کوونکو میزونو، ۲۱۹۰ پایې د زده کوونکو چوکیو، ۱۴ پایې د امریت میزونو، ۱۷ پایې د امریتونو لپاره چوکیو، ۱۹ پایې د مدیریت میزونو، ۲۰ پایې د مدیریت لپاره چوکیو، ۲۸ دانې تورو تختو، ۱۸ پایې ماموریت میزونو، ۱۳ پایې د ماموریت چوکیو، ۱۰۲۱ متره فرش، ۵ تنه امرینو، ۱۰ تنه مدیرانو، ۵۰ تنه معلمینو، ۸ تنه امامانو، ۹ تنه مؤذنینو او ۵ تنه باغوانانو ته اړتیاوې معلومې شوې دي.
- د اسلامي زده کړو امریت له لوري ۳۳۸۰ تنه علماء کرام په مشترکه ازموینه کې د ګډون په موخه ثبت شوي دي.

### ۳. د کیفیت تضمین

- د کابل ولایت د پوهنې ریاست د شهادتنامو مدیریت له لوري د 1403 مالي کال په اوږدو کې ۵۶۳۵ شهادتنامې په ګروپي ډول سره وېشل شوې دي او د زده کوونکو د چارو د مدیریت له لوري د ۵۳۴ تنو سامع زده کوونکو د پایلو جدولونه هم تطبیق شوي دي.
- د پوهنې وزارت د کیفیت د تضمین معینیت له لوري د کابل ولایت د پوهنې ریاست د کیفیت د تضمین آمریت اړوند مدیریتونو ۲۶ تنه کارکوونکو ته درې ورځنۍ سمینار ورکړل شوی دی.

### ۴. سرچینې او اداره

- د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د مالي مدیریت څخه یو تن کار کونکي (د دفتر مدیر) په مالي برخه کې د ظرفیت لوړولو په موخه شپږ ورځنۍ ورکشاپ کې ګډون کړی؛ چې درې ورځې یې د پوهنې وزارت داخل او درې ورځې د کابل ولایت په پوهنې ریاست کې پر لاره اچول شوی و.
- د سرچینې او اداري مدیریت له لوري د اداري کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژیی طرحې جوړولو کې 20% پرمختګ شوی دی.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

- د پوهنې وزارت د دفتر د رياست دوه تنه کارکوونکي په دوامداره توګه په دې رياست کې له ټولو فرامينو او حکمونو له تطبيق څخه څارنه ترسره کوي او همدارنګه د ۱۴۰۲ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولايت قدرمن والي صاحب، د فرامينو او أحکامو د تطبيق رياست محترم معاون صاحب او ورسره مل پلاوی د فرامينو او أحکامو د تطبيق له څرنګوالي د څارنې په مخه تشريف راوړی او د يادې چارې له تطبيق پوره ډاډ ترلاسه شوی دی.
- د کابل ولايت د پوهنې رياست اړوند د نشراتو مديريت له لوري د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او وېش اړوند ۱۱۰ ټوکه د ۶۰۷ شمېرې د عرفان مجلې، ۹۷ ټوکه بخوان و بينديش مجلې، د ۲۷۶ شمېرې څخه تر ۲۸۱ شمېرې پورې ۷۵۰ اونېزې مجلې، وېشل شوې دي.

## دويمه برخه: انډوليز لاسرسی

### ۱. ښوونه او روزنه

- د ده سبز ولسوالۍ اړوند ۱۷ لابراتوارونه نوي رامنځته شوي، همدارنګه په ياده او موسهي ولسوالۍ کې ۱۶ نور لابراتوارونه او ده سبز ولسوالۍ اړوند يو د کمپيوټر لب ټولګی تجهيز شوي دي.
- د زده کوونکو د چارو د مديريت په بنسټ 14172 تنه هلکان او 12656 تنې نجونې د اړوند ۱۴ ولسواليو په ښوونځيو کې د لومړيو ټولګيو لپاره جذب شوي دي.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د کابل ولايت د پوهنې رياست اړوند اسلامي زده کړو امريت له لوري له ۸۱۶ تنه حافظانو څخه ازموينه اخېستل شوې ده او د علماء کرامو د ۱۴ ټولګي د تثبيت پروسه په ۱۴۰۴ کال کې پيليږي.
- د ده سبز ولسوالۍ اړوند ۳۰۹ طالب العلمان د ليليې څخه برخمن شوي دي، همدارنګه د اسلامي زده کړو آمريت له لوري۱۴ ليليې منظورې خو لا تر اوسه ګټې اخېستنې ته نه دي سپارل شوې نه دي.

### ۴. سرچينې او اداره

- د کابل ولايت د پوهنې رياست اړوند د سرچينې او ادارې مديريت له لوري د سروبي ولسوالۍ اړوند سيمه کې يو باب لومړنې ښوونځي (کڅ سرچشمه) منځنۍ کچې ته لوړتيا کړې ده.

## 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ويونکي مديريت

### ۱. ښوونه او روزنه

- د کابل ولايت د پوهنې رياست د مرکزي او اړوند ۱۴ ولسواليو د ښوونکو د مسلکي پراختيا ښوونيزو غړو له لوري ۱۱۱ ښوونيز مرکزونو، ۵۸۰ خصوصي او دولتی ښوونځيو، ۳۳۳ سيمه ايېزو ټولګيو او ۱۶۳ چټکو زده کړو ټولګيو کې د اداري او تدريسي بهير څخه څارنه ترسره شوې ده.
- د کابل پوهنې رياست اړوند د ۳۶۸۲ عمومي زده کړو او ۳۲۶ سواد د زده کړې ښوونکو له ښوونيز بهير او درسي پلانو او د ۶۴۳ مديرانو ۸۲۸ سر ښوونکو د کړنو له څرنګوالي څارنه ترسره شوې ده.

### ۲. اسلامي زده کړې

- د کابل ولایت د پوهنې ریاست د اسلامي زده کړو آمریت له لوري۱۰۳ تنو د کدر شرطونه پوره کړی دي.
- کابل پوهنې ریاست اړوند د دولسم ټولګیو د بریالي عالمانو ۵۳ او د څوارلسم ټولګیو بریالي عالمانو ۱۰ سندونه ارزول شوي دي.

### ۳. سرچینې او اداره

- د کابل ولایت د پوهنې ریاست د کارکوونکو چارو مدیریت له لوري ۱۳ مرکزي او ۷۱۴ د ولایت پر کچه خالي بستونه پېژندل شوي دي.
- د کابل ولایت د پوهنې ریاست د کارکوونکو چارو د کلنی راپور پر بنسټ د دې ریاست کارکوونکو ته ۱۰۰۲ قطعې د هویت کارتونه وېشل شوي دي.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

- د شکردرې، سروبي او کلکان ولسوالیو کې د دولتي او خصوصي ښوونځیو، اسلامي زده کړو او سواد د زده کړو کورسونو کې له ۱۲۵ مالي فعالیتونو څخه پلټنه شوې ده.
- د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند له ۵۹ مالیاتي او څانګړو قضیو څخه پلټنه ترسره شوې ده.

## د پام وړ ستونزې

- د رسمي ښوونکو د شمېر کموالی.
- د درسي کتابونو کموالی.
- د ښوونیزو ودانیو او ټولګیو کموالی.
- د اداري او ښوونیزو چارو د ترسره کېدو لپاره د الکترونیکي وسایلو کموالی.

## حل لارې

- د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ښوونځیو ته د اړتیا سره سم د رسمي ښوونکو په تشکیل کې ډېر والی راشي.
- د ښوونیز او روزنې د ښه کیفیت تر لاسه کولو لپاره د اړتیا سره سم درسي ودانۍ جوړې شي.
- د اداري او تدریسي چارو د ښه ترسره کېدو لپاره د پوهنې اړوند ادارو ته د اړتیا وړ د کار مناسب ځای، الکترونیکي او ترانسپورتي وسایل او ټولو مالي امکانات دې برابر کړل شي.

## دویمه برخه: د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ

### لومړۍ برخه: کیفیت او تړاو

**ټولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوسایني په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱. ښوونه او روزنه

1.1 **فعالیت: په ګرمو او سړو ولایتونو کې د کلیوالي مدرسو د درې کلن کتابونو ازمایښتي تطبیق؛**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د ښوونیز نصاب ریاست پورې اړه لري نو له همدې کبله د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې یاد فعالیت د کابل پوهنې ریاست په کچه ترسره شوی نه دی.

1.2 **فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند په ۱۴ ولسوالیو کې د ۲۳۱ سواد د زده کړو کورسونو د اداري او ښوونیزو چارو د تطبیق له څرنګوالي څارنه د ولسوالیو د سواد زده کړو د مسؤولینو له لوري ترسره شوې ده

1.3 **فعالیت: د ولایتونو په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړول؛**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ښوونیزو مسلکي غړو له لوري په اړوند ۱۴ ولسوالیو کې ۱۱۲ تنه ښوونیزز مسلکي غړي روزل شوي دي.

1.4 **فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول؛**

د دې ریاست اړوند مسلکي ښوونیزو غړو له لوري په ده سبز، بګرامي، چهار آسیاب، پغمان، شکردره، ګلدره، فرزه او میربچه کوټ ولسولیو اړوند د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې 125تنه ښوونیزو مسلکي غړو ته سمینار ورکړل شوی دی.

1.5 **فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملولپاره سروې او په مرکز او ولایتونو کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه؛**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ولسوالی کې د ٦ ښوونځیو لابراتوارونه سروې شوي دي، چې د یادې سروې په نتیجه کې د فزیک، کیمیا او بیالوژی ا ړتیاوې معلومې او د اخیستلو لپاره د مرکز ساینس ریاست سره شریکې شوې دي.

1.6 **فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول؛**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست د ساینس مدیریت مسلکي ښوونیزو غړو ته کوم سمینار نه دی ورکړل شوی، خو د یادولو وړ ده چې ۷۲ تنه د لابرانت ښوونکي دمسلکي ښوونیزو غړو له لوري روزل شوي او همدارنګه د ده سبز ولسوالی اړوند ښوونځیو کې د ساینسي څانګو ۱۱ تجربې ترسره شوې دي.

**1.7 فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د 825 تنه زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول؛**

د فرزې او ده سبز اړوند ښوونځیو ۳۷۲ تنه مسؤلینو، ښوونکو او اداري غړو ته د معلول ماشومانو د حقوقو په اړه معلومات وړاندې شوي دي.

**1.8 فعالیت: د مسلکي غړو له خوا دکابل ښار او په ولایتونو کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin په برخه کې د ځاروندی د تروپ ګروپونو او بدني روزنې ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې ۴۶ تنه د بدني روزنې او ۱٦ تنه د أصول صنفي ښوونکو ته سمینار ورکړل شوی دی او همدارنګه د صحت په برخه کې د ۱۲۸ تنه ښوونکو، مدیرانو او امرینو او ٦۰۰ زده کوونکو ته معلومات وړاندې شوي دي.

**1.9 فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول؛**

د دې فعالیت تطبیق د سواد د زده کړو ریاست پورې اړه لري او د ۱۴۰۳ کال د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې یاد فعالیت د کابل ولایت په کچه ترسره شوی نه دی.

**1.10 فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د اړوند ولسوالیو د ښوونځیو ۳۸ تنو مسؤلینو سره د اړیکې نیولو له لارې د لایحو، طرز العملونو او لارښوودونو د پېژندلو په موخه د سواد د زده کړو مدیریت له لوري معلومات شریک شوي دي.

**1.11 فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول؛**

د بګرامیو او چهارآسیاب ولسوالیو د پوهنې آمریتونو کلني راپور پر بنسټ د سواد زده کړو پرګرامونو د پلي کولو په موخه ۱۸٦ تنه رضاکاران د مخورو مشرانو له لوري جلب شوي دي.

**1.12 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیا همدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول؛**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د خصوصي زده کړو ښوونیز ریاست پورې اړه لري.

**1.13 فعالیت: د 50 خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول؛**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند خصوصي ښوونځي نه دي درجه بندي شوي؛ ځکه په اړه یې د خصوصي زده کړو له ریاست څخه کومه سپارښتنه او لارښوونه نه ده ترلاسه شوې.

## ۲. اسلامي زده کړې

### 2.1 فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول؛

د کابل ولایت د پوهنې ریاست موسهي ولسوالۍ اړوند نعمانیې مدرسې د دار العلوم درجې ته لوړتیا کړې ده.

### 2.2 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د ښه کتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لېږل؛

د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند ۲۰ دارالعلومونو کې د اړتیاوو معلوملو لپار کتنې ترسره شوې دی چې، د یادې کتنې په پایله کې کتل شوي دارالعلومونو د ۳۳ خیمو، ۷۳ بابه درسی اطاقونو، ۲۰ بابه اداري اطاقونو، ۲۵۹۵ پایې د زده کوونکو میزونو، ۲۱۹۰ پایې د زده کوونکو چوکۍ و، ۱۴ پایې د امریت میزونو، ۱۷ پایې د امریتونو لپاره چوکۍ و، ۱۹ پایې د مدیریت میزونو، ۲۰ پایې د مدیریت لپاره چوکۍ و، ۲۸ دانې تورو تختو، ۱۸ پایې ماموریت میزونو، ۱۳ پایې د ماموریت چوکیو، ۱۰۲۱ متره فرش، ۵ تنه امرینو، ۱۰ تنه مدیرانو، ۵۰ تنه معلمینو، ۸ تنه امامانو، ۹ تنه مؤذنینو او ۵ تنه باغوانانوته اړتیاوې معلومې شوې دي.

### 2.3 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول؛

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د اسلامي زده کړو امریت کارکوونکو ته د اسلامی زده کړو معنیت لخوا ٦۳ تنه مسلکې غړو ته سمینار ورکړل شوی دی او همدارنګه د ولسوالیو مسلکي غړو لخوا ۱۵۰ تنه نوي مقرر شوي استادانو ته د بګرامی ولسوالۍ د امام ابو حنیفه درالعلوم، موسهي او فرزې ولسوالۍ کې سمینار ورکړل شوی دی.

### 2.4 فعالیت: د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د ښیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل؛

د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند ولسوالیو په ۸۹ مدرسو او دار الحفاظونو کې له ښوونیزو او اداري چارو څخه څارنه ترسره شوې ده چې، د یادې کتنې په پایله کې د کتل شوي دارالعلومونو د ۳۷۷ خیمو، ۱۲۸٦ بابه درسی اطاقونو، ۳٦۱ بابه اداري اطاقونو، ۳۱۵۵٦ پایې د زده کوونکو میزونو، ۲۵۷۷۳ پایې د زده کوونکو چوکۍ و، ۲۸۸ پایې د امریت میزونو، ۲۳۸ پایې د امریتونو لپاره چوکۍ و، ۲۸۰ پایې د مدیریت میزونو، ۲۹۹ پایې د مدیریت لپاره چوکۍ و، ۸۰٦ دانې تورو تختو، ۲۹۸ پایې ماموریت میزونو، ۲۳۸ پایې د ماموریت چوکۍ و، ۱۸۴۱ دانې سپینو تختو، ۱۷۵۸۲ متره فرش، ۱۵۰ تنه امرینو، ۲۱۰ تنه مدیرانو، ۸۲۰ تنه معلمینو، ۸۴ تنه امامانو، ۸۹ تنه مؤذنینو، ۳۵٦ خدماتي کارکوونکو او ۷٦ تنه باغوانانوته اړتیاوې معلومې شوې دي.

### 2.5 فعالیت: په شته ډیټابیس کې د 516 علماء کرامو د ازموینو ثبتول؛

د اسلامي زده کړو امریت له لوري ۳۳۸۰ تنه علماء کرام په مشترکه ازموینه کې د ګډون په موخه ثبت شوي دي.

### 2.6 فعالیت: په مرکز او ولایتونو کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وروپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول (46

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د مدرسو او دار الحفاظونو ښوونکو ته د نوي درسي نصاب د وروپېژندلو په موخه ورکشاپونه نه دي دائر شوي، باید وویل شي چې د ده سبز ولسوالۍ اړوند د پوهنې آمرینو له لوري ۱۰ تنو ته د یاد فعالیت په موخه اړینې ښوونې شوې دي.

### 2.7 فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول. (57

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د د کابل پوهنې ریاست په کچه د اسلامي زده کړو امریت له لوري د اړوند ۱۴ ولسوالیو د مدرسو ۱۸۵۰ فارغان چې له دې جملې څخه ۱۲۳۰ تنه په عالیه او ۶۲۰ تنه په عالمیه ازموینو کې ثبت شوي دي.

## ۳. د کیفیت تضمین پروګرام

### 3.1 فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند کارکوونکو ته د احصائیوي أرقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه په لاره اچول شوي نه دي.

### 3.2 فعالیت: د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوي ارقامو 10% کتنه او تصدیق 1

احصائیوي فورمونه د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د احصائیې مدیریت ثبت او سیستم ته داخل خو له تائیدۍ څخه یې وروسته د احصائیې او معلوماتي سیستم ریاست ته ډاډورکړل شوی دی..یاد فعالیت د تطبیق د احصایې ریاست پورې اړه لري او د ۱۴۰۳ لمریز کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست په کچه په دې اړه کړنې ترسره شوې نه دي.

### 3.3 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بنه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول 1

د کابل ولایت د پوهنې ریاست د احصائیې مدیریت د راپور پر بنسټ د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د احصائیې ریاست پورې اړه لري.

### 3.4 فعالیت: د ډیټاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بنه د ۱۴۰3 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول 1

د کابل ولایت د پوهنې ریاست د احصائیې مدیریت د راپور پر بنسټ د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د احصائیې ریاست پورې اړه لري.

### 3.5 فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول (320

دکابل ولایت دپوهنې ریاست احصائیې مدیریت له لوري د ۱۴۰۳ مالي کال لپاره ۴۵۲ د عمومي زده کړو او ۱۷۲ د خصوصي زده کړو مرکزونه د مختصات راټول شوي دي.

### 3.6 فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل (5000

د کابل ولایت د پوهنې ریاست د شهادتنامو مدیریت له لوري د 1403 مالي کال په اوږدو کې ۵۶۳۵ شهادتنامې په ګروپي ډول سره وېشل شوې دي.

### 3.7 فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولګیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول (335

د ۱۴۰۲ مالي کال د ۴۰۷ دولتي ښوونځیو او 156 د خصوصی ښوونځیو د زده کوونکو د پایلو جدولونه په سروبی ولسوالی کې تطبیق شوي دي او همدارنګه د زده کوونکو د چارو د مدیریت له لوري د (534 تنو سامع زده کوونکو د پایلو جدولونه هم تطبیق شوي دي.

### 3.8 فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه 14

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معینیت له لوري د کابل ولایت د پوهنې ریاست د کیفیت تضمین آمریت اړوند مدیریتونو ۲۶ تنه کارکوونکو ته درې ورځنی سمینار ورکړل شوی دی.

**3.9 فعالیت: د ولایتونو پوهنې ریاستونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه 1**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د څارنې او ارزونې ریاست پورې اړه لري، .

**3.10 فعالیت: د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه 1**

د ۱۴۰۳ کال په ۱۴۰۳ مالي کال کې د څارنې او ارزونې مدیریت له لوري د او سي سي ډي مؤسسې د ښوونیزې پروژې څخه څارنه ترسره شوې ده.

**3.11 فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول ۱**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د څارنې او ارزونې ریاست پورې اړه لري

**3.12 فعالیت: د ۱۴۰3 کال لپاره د عملیاتي پلان او د باثباته پراختیایي موخو پر بنسټ د ولایتونو د پوهنې ریاستونو له کلنی کړنو څخه د ارزونې ترسره کول 1**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د څارنې او ارزونې ریاست پورې اړه لري

**3.13 فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق 1**

د ۱۴۰۳ کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د راپور ورکولو آنلاین سیستم د پوهنې وزارت لخوا فعال شوی نه دی.

**3.14 فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د ولایتونو په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول (4**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ۱۴ ولسوالیو او څلورو مرکزي برنامو د ۱۴۰۳ مالي کال ۴ راپورونه راټول او اړوند ادارو سره شریک شوي دي.

**3.15 فعالیت: د متعلمینو د چارو، په ښوونه او روزنه کې د والدینو د ونډې، ساینس په پوهنه کې، خصوصي زده کړو او د پلټنې پالیسیو پراختیا ۱۰۰٪**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د تقنین او پالیسی ریاست پورې اړه لري

**3.16 فعالیت:د کیفیت تضمین او د غیر حضوري زده کړو د پالیسیو بیا کتنه؛ ۱۰۰٪**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د تقنین او پالیسی ریاست پورې اړه لري

**3.17 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسیو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق ۱۰۰٪**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د تقنین او پالیسی ریاست پورې اړه لري

3.18 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسیو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه ٪۱۰۰

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د تقنین او پالیسی ریاست پورې اړه لري

## ۴. سرچینې او اداره

4.1 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول 5

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د مالي مدیریت څخه یو تن کارکونکي (د دفتر مدیر) په مالي برخه کې د ظرفیت لوړولو په موخه شپږ ورځني ورکشاپ کې ګډون کړی؛ چې درې ورځې یې د پوهنې وزارت داخل او درې ورځې د کابل ولایت په پوهنې ریاست کې پر لاره اچول شوی و.

4.2 فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول ٪۱۰۰.

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د سرچینې او اداري مدیریت له لوري د اداري کارکوونکو لپاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژیی طرحې جوړولو کې (20% پرمختګ شوی دی.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور

5.1 فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا، وزیرانو شورا او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول 1

د پوهنې وزارت د دفتر د ریاست دوه تنه کارکوونکي په دوامداره توګه په دې ریاست کې له ټولو فرامینو او حکمونو له تطبیق څخه څارنه ترسره کوي او همدارنګه د ۱۴۰۲ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت قدرمن والي صاحب، د فرامینو او أحکامو د تطبیق ریاست محترم معاون صاحب او ورسره مل پلاوی د فرامینو او أحکامو د تطبیق له څرنګوالي د څارنې په مخه تشریف راوړی او د یادې چارې له تطبیق پوره ډاډ ترلاسه شوی دی.

5.2 فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش (3690

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د نشراتو مدیریت له لوري د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او وېش اړوند ۱۱۰ ټوکه د ۶۰۷ شمېرې د عرفان مجلې، ۹۷ ټوکه بخوان و بینديش مجلې، د ۲۷۶ شمېرې څخه تر ۲۸۱ شمېرې پورې ۷۵۰ اونیزې مجلې، وېشل شوې دي.

5.3 فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ 50

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د نشراتو مدیریت د راپور پر بنسټ د نشراتو اوعامه اړیکو ریاست پوری اړه لری.

5.4 فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه 1

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د نشراتو او عامه اړیکو ریاست پورې اړه لري

5.5 فعالیت: د هیواد په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۸۱۷۰۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش 6,500

د پورته ذکر شوي فعالیت د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند نشراتو مدیریت له لوري د نشراتو او عامه اړیکو ریاست پورې اړه لري

5.6 فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۴۴۹۶۵ ټوکه درسي کتابونو ویش 1,684)

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې په ۱۴ ولسوالیو کې د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود ۱۵۰۸ ټوکه درسي کتابونه وېشل شوي دي.

5.7 فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پرااوونو بشپړول 1

تر دې مهاله د پورته ذکر شوي فعالیت د تطبیق په اړه د پوهنې وزارت له درانه مقام څخه لارښوونه او سپارښتنه نه ده ترلاسه شوې.

5.8 فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول 6)

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د داخلي پلټنې ریاست مشاور محترم (خواجه سلیم الدین صدیقي) له لورې د کابل ولایت د پوهنې ریاست د پلټنې مدیریت اړوند ٦ تنه کارکوونکو ته د درې ورځو لپاره روزنیز پروګرام په لاره اچول شوی دی.

5.9 فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول.( 2

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست ته د دعوت او ارشاد ریاست څخه کوم هیئت نه دی راغلی.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**تولیزه موخه:** په هېواد کې د ماشومانو، ځوانانو او لویانو، نجونو او ښځو لپاره کیفیت لرونکي او خوندي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

1.1 فعالیت: د هېواد په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه ۱

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه پروګرامونه په لاره نه دي اچول شوي.

1.2 فعالیت: په دوه کلن پروګرام کې د ښوونکو روزنه (555

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د مرکزي او اړوند ولسوالیو ښوونیزو مسلکي غړو له لورې ۴۷۰ تنه ښوونکو ته د ښوونیز مهال وېش، ښوونیز او تقویمي پلانونو په اړه لارښوونې شوې دي.

1.3 فعالیت: د نتایجو او شهادتنامو ریاست سره د شریکولو په موخه د فارغانود شهرت او نتایجو جدولونو کتنه، تایید او سپارل (33

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ښوونځیو د زده کوونکو د پایلو۲۸۷ جدولونه د زده کوونکو د پېژند ګلوۍ د تائیدۍ او ښوونیزو اسناد کې د روڼوالي رامنځته کېدو په موخه کتل شوي دي.

1.4 فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوترلبونو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د ده سبز ولسوالۍ اړوند ۱۷ لابراتوارونه نوي رامنځته شوي، همدارنګه په یاده او موسهي ولسوالی کې ۱۶ نور لابراتوارونه او ده سبز ولسوالۍ اړوند یو د کمپیوټر لب ټولګی تجهیز شوي دي.

**1.5 فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د مرکز او ولایاتو په کچه د 1000000 جدیدالشمول زده کوونکو جذبول**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د زده کوونکو د چارو د مدیریت په بنسټ 14172 تنه هلکان او 12656 تنې نجونې د اړوند ۱۴ ولسوالیو په ښوونځیو کې د لومړیو ټولګیو لپاره جذب شوي دي.

**1.6 فعالیت: د کابل ښار او ولایتونو په کچه د 150 بابه نویو ښوونځیو تأسیس (5)**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند سروبي ولسوالۍ سیمه کې د میارسول بابا په نامه یو لومړنی ښوونځی رامنځته شوی دی.

**1.7 فعالیت: په کابل ښار او ولایتونو کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځنې دورې ښوونځیو د لومړنیو ښوونځو لېسې ښوونځیو ته د منځنیو ښوونځیو لوړول**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند سروبي ولسوالۍ کې د کسر چشم لومړني ښوونځي منځنی کچې ته لوړتیا کړې ده.

**1.8 فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په مرکز او ولایتونو کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند خصوصي ښوونځیو کې (ادغام، د جنسیت بدلون او انتقال) نه دی رامنځته شوی، خو باید وویل شي چې ۴ بابه خصوصي ښوونځیو نمونې تبدیل شوې دي؛ چې له جملې څخه یې درې بابه ښوونځي د بګرامیو ولسوالۍ اړوند(اشراق نمبر۲ د سجاد أحمد، پشتون آباد د رفاه پامیر نوین او د سردار عبدالمجید خان د پوهې ستوري) او یو باب ښوونځي د شکردرې ولسوالۍ اړوند(عشقري نمبر۲ د پیام انصار) په نومونو سره بدل شوي دي.

**1.9 فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي 2**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې پورته ذکر شوی فعالیت د بودجې د نشتون له کبله نه دی ترسره شوی.

**۱،۱۰ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول؛ 600**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست له لوري د کابل ولایت په کچه د ازموینې اخیستلو وروسته د ۱۹۲ تنه راستنېدونکو او مجاهدینو د ټولګیو تثبیت شوی دی.چې د هغې له جملې ۱۶۰ مجاهدین او پاتې ر استنیدونکي دي.

کې **1.11 فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هېواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه ایيزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول 117**

د ښوونې او روزنې امریت له لوري پورته ذکر شوی فعالیت د بودیجې د کموالي له کبله تر دې مهاله نه دی تطبیق شوی.

### 1.12 فعالیت: د ځارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول 4

د ښوونې او روزنې امریت له لوري پورته ذکر شوی فعالیت د بودیجې د کموالي له کبله تر دې مهاله د ترافیک او اور وژنې ډلې نه دي رامنځته شوي؛ خو د ځارندویو د ډلو رامنځته کېدو په برخه کې یواځې د پغمان، شکردرې او موسهي ولسوالی اړوند ۳ د ځارندویو ډلې رامنځته شوې دي.

### 1.13 فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول؛

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د چهار آسیاب او شکردرې ولسوالی د مسؤلینو له لوري د ښوونځیو ۱۱۶ تنه مسؤلینو او نورو غړو ته یې د بروشرونو او د اعلاناتو د چاپ او خپرولو له لارې د سواد د أهمیت په اړه پوهاوی شوی دی، همدارنګه ۲۰۳ نورو خلکو ته د جوماتونو له لوري په صوتي ډول هم د سواد دأهمیت په اړه پوهاوی وړاندې شوی دی.

### 1.14 فعالیت: د سیمه ایزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ۱۴ ولسوالیو کې ۱۸٦ په سواد حیاتي، ۱۸۵ په حرفوي او ۹۸۷ په محلي ټولګیو کې زده کړې دوام لري.

### 1.15 فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول 150

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ده سبز ولسوالی ښوونځیو کې ۱۷ تنه زده کوونکو ته د سواد زده کړې لپاره زمینه برابره شوې ده.

### 1.16 فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول 5,900

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ۱۴ ولسوالیو د سواد زده کړې کورسونو کې ۴۰۹۸ تنه زده کوونکي جذب شوي دي.

### 1.17 فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروګرام له لارې د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند سواد زده کړې کورسونو ته د ملا امامانو له لوري زده کوونکي نه دي جذب شوي

### 1.18 فعالیت: د هېواد په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ۱۴ ولسوالیو کې د بېرته راستنېدونکو ۱۹۷ کورسونه او د رسمي ښوونکو له لوري د سواد زده کړې ۲٦۲ ټولګي رامنځته شوي دي.

### 1.19 فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت پوهنې ریاست اړوند ولسوالیو کې ۹ بابه خصوصي ښوونځي نوي تأسیس، د 11 بابه د جوازونو تمدید، ۷ بابه لومړني منځنۍ کچې ته لوړتیا او ۹ بابه له منځنۍ کچې د لیسې کچې ته لوړتیا کړې ده او یو باب کورس نوی تأسیس شوی دی، چې تفصیل یې په لاندې ډول سره ده.

تأسیس: (7) بابه د بګرامیو ولسوالۍ (اقرأ روضة الأطفال نمبر۲، د سبا اتلان، اتل نیازی، صلح وادب، عمر حمزه او نعم الله سهاک)، ۱ باب د چهار آسیاب ولسوالۍ (ملي معارف نمبر۲، ۱ باب د ګلدرې ولسوالۍ(اسرار فرقاني نمبر۲ او ۱ باب د ده سبز ولسوالۍ اړوند سیمه کې (ذبیح الله مسلم یار) رامنځته شوې دي.

د جوازونو تمدید: ۷ بابه د بګرامیو ولسوالۍ (عصر بلون لیُسه، حرکت بریا لیسه، زرکشان لیسه، طارق العلم لیسه، ویاړ دوستي منځنی، مسلم ستوری لومړنی ښوونځی او د بیرغ لومړنی ښوونځی) ۱ باب د قره باغ ولسوالۍ (اعتمای کامل نمبر ۲ منځنی ښوونځی) ۲ بابه د چهار آسیاب ولسووالۍ (غني ودان او أحمد خان لیسې)، یو باب د سروبي ولسوالۍ اړوند(څلانده پایښت منځنی ښوونځی، او ۱ باب د پغمان ولسوالۍ اړوند سیمه کې (میلاد اتل لیسه) فعالیت لري.

منځني ته لوړتیا: ۳ بابه د بګرامیو ولسوالۍ (نخبګان راحت، احسان احساس او رحمت دانش) ۱ یو باب د قره باغ ولسوالۍ (لېوال علم) ۱ باب د چهار آسیاب ولسوالۍ اړوند (هدایت الحق) او ۲ بابه د سروبي ولسوالۍ اړوند (څلانده مسلم او ضامن ښوونځي) فعالیت لري.

لیسي ته لوړتیا: ۵ بابه د بګرامیو ولسوالۍ (طارق العلم، یقین نمبر۲، عصر بدلون، اسرار علم او جاویدان) ۱ باب د میربچه کوټ ولسوالۍ (أخلاق نمبر۲ ۲ بابه د چهار آسیاب ولسوالۍ (درویش ملنګ او غني ودان) او ۱ باب د پغمان ولسوالۍ اړوند (مشعل دانش) سیمه کې فعالیت لري.

د خصوصي کورسونو تأسیس: یو باب خصوصي کورس د (افغان ستوري) په نامه د بګرامیو ولسوالۍ اړوند نوی تأسیس شوی دی.

### 1.20 فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي؛

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د خصوصي ښوونځیو ریاست پورې اړه لري.

### 1.21 فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول.

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند شکردرې او فرزې ولسوالیو کې خصوصي ښوونځي ته ۱۸۰ یتیم زده کونکي ور پیژندل شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

### 2.1 فعالیت: د اسلامي زده کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو وېش

د ۱۴۰۳ مالي کال ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ولسوالیو کې د اسلامي زده کړو۱۳ بنسټونه تأسیس او د بګرامیو په ولسوالۍ کې د محمدیې مدرسې نوم له محمدي نه دراسات الاسلامیه ته بدولون موندلی دی.

### 2.2 فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول

پورته ذکر شوی فعالیت په اړه دبګرامیو ولسوالی کې محمدیه مدرسه د"محمدیه لدارت الاسلامیه" په نوم غوښتنې باندې کړنې ترسره شوي دي.

**2.3 فعالیت: د ۱۵۰۰۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند اسلامي زده کړو امریت له لوري له ۸۱۶ تنه حافظانو څخه ازموینه اخېستل شوې ده او د علماء کرامو د ۱۴ ټولګي د تثبیت پروسه په ۱۴۰۴ کال کې پیلیږي.

**2.4 فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول ۱**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د ده سبز او شکردرې ولسوالیو دار العلومونو کی لیلیې منظورې شوې خو لا تر اوسه کتې اخېستنې ته سپارل شوې نه دي

**2.5 فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول 2,330**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د ده سبز ولسوالی اړوند ۳۰۹ طالب العلمان د لیلیې څخه برخمن شوي دي، همدارنګه د اسلامي زده کړو آمریت له لوري۱۴ لیلیې منظورې خو لا تر اوسه ګټې اخېستنې ته نه دي سپارل شوې نه دي.

**2.6 فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنی دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د اړوند ۱۴ ولسوالیو په دار العلومونو کې د ځانګړې ازموینې له لارې 282 ذکور طالب العلمان او ۳۲ تنه اناث په ۱۳ صنف کې نوي شامل شوي دي او ٦٧٢ ذکور په لومړی ټولګي کې د جدید الشمول طالب العلمان جذب شوي دي.

**2.7 فعالیت: د ۷۷۰۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول او نیمه عالي دارالحفافظونو ته د ۳ بابه دارالحفاظونو لوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د نارینه ؤ یو دارالحفاظ او ۱۱ مدرسې تأسیس شوې دي.

**2.8 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ٦٠٠ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول 17**

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د ده سبز او شکردرې ولسوالی اړوند سیمو کې ۷ سیمه ایزې مدرسې رامنځته شوې دي.

**2.9 فعالیت: د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د ١٦٠٠٠ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول 452**

په نوموړی برخه کې د بودجې نشتون له کبله کړنې ترسره شوې نه دي.

### ۴. سرچینې او اداره

**3.1 فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول ٪۱۰۰**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د سرچینې او اداري مدیریت له لوري د ۱۴۰۳ مالي کال له مخې د دې ریاست د ښوونځیو ٪۱۰۰ ښوونیز او اداري تشکیل انتقال شوی دی.

**3.2 فعالیت: د ښوونځیو د تشکیل له لومړني ښوونځي څخه منځني، لیسې او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د سرچینې او اداري مدیریت له لوري د سروبي ولسوالی اړوند سیمه کې یو باب لومړني ښوونځي (کڅ سرچشمه) منځني کچې ته لوړتیا کړې ده.

**3.3 فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د کابل ولایت د پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست پورې اړه لري.

**3.4 فعالیت: د کارکوونکو چارو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند د سرچینې او اداري مدیریت له لوري د دې ریاست د کارکوونکو د لایحو کتنه شوې ده.

**3.5 فعالیت: د برېښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي تیم ټاکل او لېږل**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د کابل ولایت د پوهنې ریاست په کچه د پوهنې وزارت د کارکوونکو چارو ریاست پورې اړه لري.

**3.6 فعالیت: په ولایتونو کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د اسلامي امارت له بودیجې څخه هېڅ نیمه کاره پروژه د بودجې د نشتون له کبله نه ده بشپړه شوې.

**3.7 فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ۱۶ پروژې د مرستندویو مؤسساتو د بودیجې څخه تر کار لاندې دي.

**3.8 فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو ټیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول**

د اسلامي امارت د بودیجې له څخه ۲۸ او د مؤسساتو له بودیجې څخه ٦ ترمیماتي پروژې تر ارزونې لاندې دي، او باید وویل شي چې ۹ پروژې د مرستندویو مؤسساتو د بودیجې له مخې ترمیم شوې دي.

**3.9 فعالیت: د مرکز او ولایتونو څخه د بنسټیزو او ترمیماتي پروژو د قیمت ورکولو په موخه په ربعوار ډول د ساختماني موادو د نرخونو راټولول؛**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د ترمیماتي پروژو لپاره له هټۍ والو د مناسب نرخ نه ورانډې کولو له کبله نرخونه نه دي را ټول شوي.

**3.10 فعالیت: د ښوونځیو او مدرسو د جوړولو په موخه د معارف پاله خلکو له لارې د شخصي ځمکو برابرول (20**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند (شکردره، میربچه کوټ، پغمان او کلکان) ولسوالیو کې ۸.۴ جریبه ځمکه وقف شوې ده او ۵ جریبه ځمکه د سروبی ولسوالی کې خخوبی مدرسې او د ابتدائیه اسماعیلي شینوار ته ورکړل شوې او املاکو ریاست سره شریکه شوی ده.

**3.11 فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د پوهنې اړوند تر دعوې او شخړې لاندې غصب شویو جایدادونو د دوسیو تعقیبول او د پوهنې د غصب شویو، نیول شویو او تر دعوې لاندې جایدادونو خلاصول**

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند ولسوالیو کې د ۱۳ جایدادونو د دوسیو څارنه شوې ده او د وزیرګل شهید د لېسې د دوکان د ځمکې تخلیه شوې ده، همدارنګه د بګرامیو ولسوالۍ اړوند د میرویس مېنې ښارګوټۍ او هلکانو لېسې ځمکه له غصب څخه پاکه شوې ده.

### ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**4.1 فعالیت: د مرکز، ولایتونو او پوهنې ریاستونو استازو ته د ولایت له پوهنې څخه د ترلاسه شویو مکتوبونو د ترلاسه کېدو او ښه اجراآتو په اړه معلومات ورکول**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د پوهنې وزارت اړوند د چارو د سمون او همغږۍ ریاست پورې اړه لري.

## 3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکې مدیریت

**تولیزه موخه:** د مرکز او ولایتونو په کچه کیفیت لرونکي، انډولیز او رڼو، ارزانه او آغېزمنو ښوونیزو چوپړتیاو د وړاندې کولو او برابرولو لپاره د آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت پراختیا او غښتلتیا.

### ۱. ښوونه او روزنه

**1.1 فعالیت: د هېواد د ولایتونو په لرې پرتو او محرومو سیمو کې د ښوونکو د ګمارنې له څرنګوالي څخه څارنه ۱**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د ښوونې او روزنې معینیت پورې اړه لري، د ۱۴۰۳ مالي کالپه اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست په کچه ترسره شوی نه دی.

**1.2 فعالیت: د اساسي او ثانوي زده کړو ریاست سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د څارنې له لارې د ښوونې او روزنې پروګرام اړوند د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو د لاسلیک شویو تعاهد/هوکړه لیکونو څخه د ډاډ ترلاسه کول ۱**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د ښوونې او روزنې معینیت پورې اړه لري او د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست په کچه ترسره شوی نه دی.

**1.3 فعالیت: د مقام د وزارت ته د عمومي ریاست او تر چتر لاندې اړوند ریاستونو د کادري غړو د علمي رتبو تصویب او پیشنهادول (20)**

د پورته ذکر شوي فعالیت تطبیق د مسلکي ښوونکو پراختیا او نصاب عمومي ریاست پورې اړه لري او د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست په کچه ترسره شوی نه دی.

**1.4 فعالیت: د کابل ښار په ګډون په ولایتونو کې د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا غړو لخوا د ښوونځیو د شوراګانو له کارونو او د هغوی له اغېزمنتوب څخه څارنه 1**

د کابل ولایت د پوهنې ریاست د مرکزي او اړوند ولسوالیو د پوهنې آمریتونو مسلکي ښوونیز غړو له لوري اړوند ولسوالیو ښوونځیو کې مسلکي ښوونیز غړو له لوري د ٦٧ شورا ګانو د ترسره شوو کړنو او چارو څخه څارنه ترسره شوې ده، همدارنګه د دې ریاست د شورا ګانو

مدیریت د راپور پر بنسټ د ۴۰ شوراګانو له فعالیتونو څخه څارنه ترسره شوې ده؛ یادې شورى ګانې د دیده بان شفافیت افغانستان مؤسسې په ملاتړ د بګرامیو، پغمان او شکردرې ولسوالیو کې فعالیت لرى.

### 1.5 فعالیت: مسلکي پراختیا، عمومي زده کړو ښوونځیو، سیمه ئیز او چټکو زده کړو ټولګیو او سواد زده کړو کورسونو څخه حمایوي څارنه

د 1403 مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست د مرکزي او اړوند ۱۴ ولسوالیو د ښوونکو د مسلکي پراختیا ښوونیزو غړو له لوري ۱۱۱ ښوونیز مرکزونه، ۵۸۰ خصوصي او دولتی ښوونځي، ۳۳۳ سیمه اییز ټولګي او ۱۶۳ چټکو زده کړو ټولګیو کې د اداري او تدریسي بهیر څخه څارنه ترسره شوې ده.

### 1.6 فعالیت: د درسونو مشاهدې له لارې د ۶۹۱۵٦ تنو ښوونکو او نورو ښوونیزو کارکوونکو د کتنو له لارې د روزنیزو اړتیاوو په ډاګه کول

د 1403 مالِ کال په اوږدو کې د ۳٦۸۲ عمومي زده کړو او ۳۲٦ سواد د زده کړې ښوونکو له ښوونیز بهیر او درسي پلانو او د ٦۴۳ مدیرانو ۸۲۸ سر ښوونکو او د کړنو له څرنګوالي څارنه ترسره شوې ده، چې د یادې څارنې په پایله کې معلومه شوه چې ۱۱۳ ښوونکي، ۸۷ سرښوونکي، ۹۷ مدیران او ٦۸ تنه د سواد زده ښوونکي روزنې ته اړتیا لري.

### 1.7 فعالیت: د ترسره شویو علمي راپورونو ترلاسه کول، توحید، تحلیل او وړاندې کول؛

د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د کابل ولایت د پوهنې ریاست اړوند عمومي زده کړو امریت له لوري د دانکشاف مسلکي غړیو له لوري ۱۲۹ علمي راپورونه را ټول شوي دي.

### 1.8 فعالیت: د هوکړه لیکونو کتنه او تخنیکي اصلاح او د همکارو مؤسسو په ملاتړ د ګډې نمونوي څارنې ترسره کول؛

